امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

هفته نامه


# مدیریت حوادث

۱۳ الی ۱۸ جدی ۱۴۰۴

شماره یکصدو سی و هشتم



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست نوې اداري ودانۍ په ځانګړو مراسمو کې پرانیسته



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، خوست ولایت ته سفر وکړ او په ځانګړو مراسمو کې او د خوست والي، محترم الحاج مولوي عبدالله مختار، د اطلاعاتو او نشراتو رئیس او ویاند، حافظ محمد یوسف حماد، د خوست ولایت پېښو ته د رسېدنې آمر، قاري محمد عالم خبیب، د داخلي پلټنې آمر، قاري محمد یاسین شاعر، د ولایت مشرانو او خبریالانو په شتون کې یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست لپاره تازه جوړه شوې نوې اداري ودانۍ د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۵ نېټه پرانیسته...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هندیکپ اینترنشنل مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۴۹۱,۲۷۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د هندیکپ اینترنشنل مؤسسې د پروګرامونو له رئیس، ښاغلي وینسنت...

ادامه در صفحه ۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس په کابل کې د IHH مؤسسې د مرکزي دفتر له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د په کابل کې د IHH مؤسسې د مرکزي دفتر له رئیس، محترم سلیمان ابطي سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۴ نېټه د دې...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د FSCWEO مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۴۹۱,۶۲۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د FSCWEO مؤسسې د اړیکو له مسؤل محترم مزمل دراني سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۶ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل...

ادامه در صفحه ۴

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست نوې اداري ودانۍ په ځانګړو مراسمو کې پرانیسته




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، خوست ولایت ته سفر وکړ او په ځانګړو مراسمو کې او د خوست والي، محترم الحاج مولوي عبدالله مختار، د اطلاعاتو او نشراتو رئیس او ویاند، حافظ محمد یوسف حماد، د خوست ولایت پېښو ته د رسېدنې آمر، قاري محمد عالم خبیب، د داخلي پلټنې آمر، قاري محمد یاسین شاعر، د ولایت مشرانو او خبریالانو په شتون کې یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست لپاره تازه جوړه شوې نوې اداري ودانۍ د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۵ نېټه پرانیسته او رسماً یې ګټې اخیستنې ته وسپارله.

په ننني غونډه کې، محترم ترابي صاحب ټینګار وکړ چې د مناسب کاري چاپېریال درلودل کولای شي پر کیفیت او چټکو خدمتونو وړاندې کولو مستقیم او څرګند اغېز ولري. د همدې لپاره، مورږ هڅه وکړه چې بودجه، چې په تېرو حکومتونو کې یوازې د یو ګدام د جوړولو لپاره ځانګړې شوې وه، تعدیل کړو او درېپوړیزه ودانۍ جوړه کړو، چې ترڅمکې لاندې یو پوړ یې د معیاري ګدام لپاره دی او دوه پوړونه یې د اداري ودانۍ لپاره دي. دا پروژه ټولټال د ۱۳ میلیونه افغانیو په لګښت بشپړه شوې او په څلورو نورو ولایتونو سمنګان، کندهار، کاپیسا او میدان وردګ کې هم په ورته ډیزاین ودانۍ جوړې شوې دي. نوموړي د دې ترڅنګ چې د خوست خلکو ته یې د دې ودانۍ مبارکي وویله او څرګنده یې کړه چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره د خلکو د خدمت او د مرستو د همغږۍ په موخه تاسیس شوې ده، او دا ودانۍ کولای شي د خدمتونو وړاندې کولو زمینه نوره هم اسانه کړي، د ځانګو ترمنځ همغږي زیاته کړي او د ورځنیو اداري فعالیتونو د ترسره کولو امکانات پراخ کړي.

ورته مهال، د خوست والي، محترم الحاج مولوي عبدالله مختار د ودانۍ د جوړېدو په اړه خوښي وښوده او د ترابي صاحب د هڅو د قدردانۍ ترڅنګ یې وویل چې اسلامي امارت د داخلي عوایدو په کارولو او په قوي ارادې سره د بنسټیزو پروژو د پلي کولو په لټه کې دی.

همدا راز، د خوست ولایت پېښو ته د رسېدنې آمر، قاري محمد عالم خبیب، د ودانۍ د جوړولو د هڅو لپاره د ادارې له لوی رئیس څخه ځانګړې مننه وکړه، پروژه یې تشریح کړه او ویې ویل چې وړاندې مورږ له ستونزو سره مخ وو او په کرایي ودانیو کې مو کار کاوه، خو اوس د دې ودانۍ د جوړېدو له امله د خدمتونو وړاندې کولو لپاره ټولې لازمې اسانتیاوې برابرې شوې دي.

همدرنګه، د خوست محترم والي، د ترابي صاحب پر سر د خدمتونو د قدردانۍ په پار، د درناوي لنګۍ ور کېښوده.

په پای کې، د ادارې لوی رئیس، د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ټولو کارکوونکو سره جلا جلا وکتل، د دوی ستونزې او وړاندیزونه یې د چارو د ښه والي په موخه واورېدل. او نغدي کومک ورسره وکړی.

# له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې او د هنديکپ اينټرنشنل مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۴۹۱,۲۷۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه



له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د هنديکپ اينټرنشنل مؤسسې د پروګرامونو له رئيس، ښاغلي وينسنت روور، او د دې مؤسسې د اړيکو له مسوول، حبيب‌الرحمن ابراهيمي، سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۳ نېټه وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه يې ورسره لاسليک کړه.

محترم ترابي صاحب، وويل چې موږ د مؤسسې پر وړاندې هيڅ ډول محدوديت نه دی رامنځته کړی او ټه لرو چې هغوی به خپلې پروژې په شفاف او چټک ډول پلي کړي او د تمويلوونکو له لوري به لا زياته بوديجه هم جلب کړي. نوموړي د پروژو په چوکاټ کې د اداري لګښتونو پر کمولو ټينګار وکړ او زياته يې کړه چې دوه اړخيز اخلاص د دواړو لوريو د دوامدارو همکاريو تضمين کوونکی دی.

په همدې حال کې، د افغانستان لپاره د هنديکپ اينټرنشنل مؤسسې د پروګرامونو رئيس، ښاغلي وينسنت روور، د ادارې له مشرتابه څخه د ځانګړې مننې ترڅنګ وويل چې موږ د تفاهم‌نامې د ارزونې په پړاو کې له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې آمادګۍ څخه ډېر درسونه زده کړل او هڅه به وکړو چې په راتلونکو پروژو کې ترې ګټه واخلو.

د يادونې وړ ده چې په پای کې د دواړو لوريو ترمنځ ټولټال د څلور سوه او يو نوي زره او دوه سوه او نه اويا (۴۹۱,۲۷۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه چې له مخې به يې ياده مؤسسه لاندې فعاليتونه ترسره کړي:

الف: د ګدام‌دارۍ او ترانسپورټ په برخه کې:

• د بشري مرستو له ادارو او مؤسسو سره د ګدام خدمتونو برابرول؛

• د بشري مرستو سازمانونو ته د هرات ولايت څخه د هرات ولسواليو او ګاونډيو ولايتونو ته د ترانسپورټي خدمتونو وړاندې کول؛

• د هنديکپ اينټرنشنل مؤسسه به له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې بېلابېل توکي د لوېديځ زون ولايتونو (هرات، بادغيس، فراه، نيمروز او غور) ته د پنځو مياشتو لپاره انتقالوي؛

• د پروژې اړوندو کارکوونکو د ظرفيت لوړونه، په ځانګړي ډول هغه موټرچلوونکي چې د ترانسپورټي خدمتونو برخه کې دخيل دي، او همدارنګه د هغو مؤسسو د لوژستيک مديران يا کارکوونکي چې د دې پروژې له خدمتونو استفاده کوي

ب: د ناچاوده توکو په برخه کې، چې د هرات ولايت په ګذره، انجيل، کشک، زنده‌جان او شين‌ډنډ ولسواليو او د کندز ولايت په خان‌آباد، چهاردره او امام‌صاحب ولسواليو کې پلي کېږي:

• د چاودېدونکو توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوي فعاليتونو (EORE)ترسره کول؛

• د ناچاوده توکو د خطرونو په اړه د پوهاوي د فعاليتونو لپاره د ځايي رضاکارانو روزنه؛

• د چاودېدونکو توکو راپور ورکول؛

• د ناچاوده توکو د قربانيانو د معلوماتو شريکول؛

• د روغتيايي خدمتونو (جسمي او رواني توان‌ورکولو) لپاره د ناچاوده توکو د قربانيانو لېږل.

## له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې لوی رئیس په کابل کې د IHH مؤسسې د مرکزي دفتر له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د په کابل کې د IHH مؤسسې د مرکزي دفتر له رئیس، محترم سلیمان ابطي سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۴ نېټه د دې ادارې د آمرینو او کارکوونکو په شتون کې وکتل او د ګډو فعالیتونو د همغږۍ په اړه یې خبرې وکړې.

په پیل کې، ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وویل او د دوی په راتګ سره یې خوښي څرګنده کړه، همدارنګه ترابي صاحب په افغانستان کې د یادې مؤسسې ترسره شوي فعالیتونه وستایل او زیاته یې کړه، چې د کارونو د چټکتیا، مؤثریت او شفافیت په موخه موږ هر وخت چمتو یو چې له داخلي او بهرنیو بنسټونو سره د دوه اړخیزو همغږیو ناستې وکړو، ترابي صاحب زیاته کړه، چې په ولایتونو کې هم د دې ادارې کارکوونکي تیار دي ترڅو له اړوندو مؤسسو سره د هغوی د پلي کېدونکو پروژو په پلي کولو کې هر ډول همکارۍ وکړي.

وروسته، راغلي پلاوي له ترابي صاحب څخه د لیدنې زمینې برابرولو او د هوکړه لیکونو د لاسلیک په برخه کې د آسانتیاوو او د هغې د اړوندو کارونو د ژر خلاصېدو په پار مننه وکړه او د خپلو تېرو او اوسنیو فعالیتونو په اړه یې بشپړ معلومات وړاندې کړل.

په پای کې، دواړو لورېو د بیړنۍ ژغورنې ټیم په جوړولو، د دوه اړخیزو اړیکو او د پر وخت همغږیو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د FSCWEO مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۴۹۱,۶۲۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د FSCWEO مؤسسې د اړیکو له مسؤل محترم مزمل دراني سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۶ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په پیل کې، ترابي صاحب د یادې موسسې پلاوي ته ښه راغلاست وویل، او له یاد پلاوي څخه یې وغوښتل چې خپله پروژه پر وخت او په پوره شفافیت سره ترسره کړي، ترڅو مستحقې کورنۍ پر وخت ګټه ترې واخلي.

وروسته، محترم دراني له ترابي صاحب څخه د لیدنې زمینې برابرولو په پار مننه وکړه او د خپلې راتلونکې پروژې په اړه یې بشپړ معلومات وړاندې کړل.

په پای کې، د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د څلور سوه او یو نوي زره او شپږ سوه اووه ویشت (۴۹۱,۶۲۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې د هرات ولایت په ادرسکن، رباط سنګي او کشک کهنه ولسوالیو کې ۱,۴۷۰ مستحقو کورنیو ته د څلورو میاشتو لپاره هره میاشت هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۴ لیټره غوړي، ۴ کیلو حبوبات او نیم کیلو مالګه ووېشل شي او همدارنګه د یادې تفاهم نامې له مخې به ۲,۸۰۰ کورنیو ته د یو ځل لپاره د رومیانو، بامیه، پیاز، پالک او بانجانو اصلاح شوي تخمونه او د باغدارۍ د وسایلو یو کیټ ووېشل شي.

## د پېښو چارو د انسجام معین د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ګدام څخه لیدنه وکړه او د مرستو په مدیریت کې یې پر روڼتیا او نظم ټینګار وکړ



د پېښو چارو د انسجام معین محترم الحاج ملا عبدالوالی څارنوال (حاجي وارث)، بدخشان ولایت ته د خپل رسمي سفر په لړ کې، د منظم کاري پلان له مخې او په نورو ولایتونو کې د مرستندویه توکو د ګدامونو له ارزونې وروسته، د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي محمد اکرم اکبري او د هغه مل پلاوي په ملتیا، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۷ نېټه د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خوراکي او غیرخوراکي توکو له ګدام څخه لیدنه وکړه.

د دې لیدنې پر مهال، د پېښو چارو د انسجام محترم معین د ګدام د خوراکي توکو د ساتنې، تنظیم او ترتیب وضعیت له نږدې وڅېړه او د بشردوستانه مرستو د اصولي، شفاف او معیاري مدیریت پر ارزښت یې ټینګار وکړ. نوموړي وویل چې د خوراکي توکو د زېرمه کولو او د وېش په بهیر کې نظم، شفافیت او ځواب‌وینه د خلکو او همکارو بنسټونو د باور د جلبولو لپاره بنسټیز رول لري.

محترم حاجي وارث همدارنګه لارښوونه وکړه چې معلوماتو ته د لاسرسي د اسانتیا او د شفافیت د لا زیاتوالي په موخه، د ګدام دننه د خوراکي، غیرخوراکي او نورو مرستندویه توکو د ځانګړتیاوو لوحه نصب شي، تر څو د توکو ډول، اندازه، کیفیت، د ترلاسه کولو نېټه او د پای نېټه (انقضا) په واضح ډول په کې درج شي. هغه زیاته کړه چې د دغو مواردو رعایت د توکو له ضایع کېدو مخنیوی کوي او د وېش پر مهال هم اسانتیا، دقت او چټکتیا رامنځته کوي.

په دوام کې، د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ رئیس، محترم مولوي محمد اکرم اکبري، د پېښو چارو د انسجام معین له پاملرنې، لیدنې او لارښوونو څخه د مننې تر څنګ ډاډ ورکړ چې ټولې ورکړل شوې لارښوونې به په جدي توګه عملي شي او د مرستندویه توکو د ساتنې، ثبت او مدیریت د سیستم د لا ښه والي لپاره به هڅې روانې وساتل شي.

دا لیدنه د څارنې د پیاوړتیا، د شفافیت لوړولو او د پېښو پر وړاندې د چمتووالي او مبارزې په برخه کې د مدیریتي وړتیاوو د ښه کېدو په موخه ترسره شوې او په بدخشان ولایت کې د بشردوستانه مرستو د سالم او اغېزمنې کاروونې پر لور یو اغېزناک ګام بلل کېږي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۷ نېټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) تخنیکي کمېټې غونډه ترسره کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) ترمنځ، په یاده اداره کې د همکاریو د اسانتیا او پراختیا په موخه د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۸ نېټه تخنیکي غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له لورې د تخنیکي کمېټې مسوول، محترم برهان‌الدین شینواري، د نړیوالو اړیکو ریاست د اقتصادي همکاریو آمر، احمد سمیر کوهدامني، د پېښو مدیریت د معلوماتو ملي سیستم (NDMIS) آمر، سمیع‌الله حیات او د بېړنیو حالاتو ریاست رضاکارانو ګډون درلود. همدارنګه د خوړو نړیوال پروګرام له لورې د مرکزي زون مسوول، صدیق الله امین، او د دې پروګرام د همکارو مؤسسو یو شمېر استازو په غونډه کې ګډون درلود.

په دې ناسته کې دواړو لوریو د لاسلیک شوې نقشې لارې په چوکاټ کې د دواړو بنسټونو د همکاریو څرنګوالي، د ګډو بشري فعالیتونو پراختیا، راتلونکو ستراتیژیکو همکاریو، د دې ادارې له رضاکارانو سره د همکارۍ، او د بشري فعالیتونو د لا اسانتیا په اړه بحث وکړ، تر څو خلک وکولای شي له مرستو څخه لا زیاتې ګټې واخلي.

همدارنګه د خوړو نړیوال پروګرام پلاوي، له دې ادارې څخه د مؤسسو لپاره د رامنځته شوو اسانتیاوو له امله خپله خوښي څرګنده کړه او ویې ویل چې د دواړو بنسټونو د کاري همغږۍ او ثبات په نظر کې نیولو سره، دوی ډېره لېوالتیا لري چې په راتلونکي کال کې د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه له دې ادارې سره د خپل اصلي سکتور په توګه لاسلیک کړي.

## د هلمند او اروزګان ولایتونو ته له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباري توګه د را ایستل شویو راستنېدونکو سره د مرستې کولو په موخه خوراکي او غیر خوراکي توکي ولېږدول شول

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نور الدین ترابي د لارښوونې او د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې د عالي کمیسیون، چې په څو ولایتونو کې کډوالو ته د مرستو وېشل د دې ادارې په غاړه دي د پرېکړې له مخې، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ګودام څخه له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباري توګه د را ایستل شویو راستنېدونکو سره د مرستو د کولو په موخه خوراکي او غیر خوراکي توکي د هلمند او ارزګان ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو ته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۸ نېټه ولېږدول شول.



په دې لړۍ کې، ۲۰۰ بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۱۰۰۰ کیلو بوره او ۱۰۰ کیلو تورچای د هلمند ولایت ته او ۵۰۰ بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۳۰۰ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۳۰۰ کیلو تورچای او ۱۰۰۰ جوړې څپلۍ د اروزګان ولایت ته انتقال شوې.

د یادونې وړ ده، چې دا مواد به وروسته له دقیقې سروې یادو ولایتونو ته له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباري توګه را ایستل شویو راستنېدونکو ته ووېشل شي.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د پکتیا ولایت په وزې ځدراڼ ولسوالۍ کې د استنادي دیوال پروژه ګټې‌اخیستنې ته وسپارله



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د پکتیا ولایت د وزې ځدراڼ ولسوالۍ ته د سفر پر مهال، د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې په داسې حال کې، چې د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي نثار احمد نجات، د یادې ولسوالۍ ولسوال، عزت‌الله مخلص، د اطلاعاتو او نشراتو رئیس او ویاند حافظ محمد یوسف حماد، د داخلي پلټنې آمر، قاري محمد یاسین شاعر، خبریالانو او قومي مشرانو ګډون درلود، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۵ نېټه د استنادي دیوال پروژه ګټې‌اخیستنې ته وسپارله.

محترم ترابي صاحب وویل، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله له لوري د هر ولایت لپاره د یو میلیون افغانیو په ارزښت بېړنۍ پروژه منظوره شوې وه، چې ډېری یې پلې شوې دي. نوموړي زیاته کړه، چې د سیلابونو د خطر د کمولو په موخه په ټولو ولایتونو کې د سیلابي لارو د پاکولو بهیر هم پیل شوی دی. هغه وویل، چې دا استنادي دیوال د سیلابونو د خطر په کمولو کې اغېزمن دی او هڅه کوو چې په راتلونکي کې هم په دې ولایت کې نورې پروژې پلي کړو.

په همدې حال کې، د وزې ځدراڼ ولسوالۍ ولسوال، عزت‌الله مخلص یاد ولایت ته د ترابي صاحب له پاملرنې مننه وکړه او د لا زیاتو پرمختیایي پروژو د پلي کولو غوښتنه یې وکړه.

همدارنګه، د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوي نثار احمد نجات وویل، چې د ترابي صاحب د هڅو او پاملرنې له برکته د خطرونو د کمولو او د مرستو د وېش په برخه کې ګڼ مثبت اقدامات شوي دي. نوموړي زیاته کړه، چې سره له دې چې تېر کال په دې ولایت کې د موسسو په همکارۍ ۱۵ پروژې پلې شوې دي، خو بیا هم د لا زیاتو پروژو اړتیا شتون لري.

له بلې خوا، قومي مشرانو حاجي نواب او ډاکټر جمیل د یادې پروژې له پلي کېدو څخه خوښي څرګنده کړه او له اسلامي امارت څخه یې د مننې ترڅنګ د دې نظام د بقا لپاره د خیر دعاو وکړه.

د یادونې وړ ده، چې دغه پروژه د ۱۶۰ متره په اوږدوالي او ۴.۵ متره په لوړوالي، د ۲,۰۵۰,۰۰۰ افغانیو په لګښت د ادارې او د ولایت مقام له بودجې څخه پلې شوې ده، چې له امله یې اوس د سیمې هستوګنیز کورونه، کرنیزې ځمکې، سړک او عامه‌المنفعه تاسیسات د سیلاب له ګواښونو څخه خوندي شوي دي.

د یادونې وړ ده، چې د مراسمو په پای کې د سیمې خلکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس او د هغه مل پلاوي ته ډالۍ هم ورکړې.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ادارې په تورخم پنډغالي کې کډوالو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د حاجي محمد حنیف پوپل په ملاتړ، د دې ادراې په تورخم پنډغالي کې میشتو کډوالو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۳ نېټه غیر خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، میشتو کډوالو ته د سړې هوا د زیاتوالي له امله ۴۵ کمپلې ووېشل شوې.
د یادونې وړ ده، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له لوري یاد جوړ شوی پنډغالی د راستنېدونکو کډوالو د لنډمهاله اړتیاوو د پوره کولو په موخه فعال دی، او ورته بشري مرستې وخت پر وخت پکې برابرېږي.



## توزیع کمک‌های نقدی برای ۸۰ تن از دانش‌آموزان حرفوی در ولایت لغمان



بر اساس تفاهم‌نامهٔ امضاشده میان ادارهٔ ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسهٔ Afghan Youth Services (AYSO)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با حمایت مؤسسه متذکره، پس از سروی، بتاریخ ۱۳ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۸۰ تن که در بخش‌های مختلف آموزش‌های حرفوی دریافت کرده بودند کمک‌های نقدی توزیع کرد.
در این پروسه با حضور مسئولان، به‌منظور حمایت اقتصادی از دانش آموزان، به هر تن در حضور مسئولان مبلغ ۷،۱۴۰ افغانی پرداخت گردید که در مجموع مبلغ ۵۷۱،۲۰۰ افغانی برای این تعداد اختصاص یافته بود.
مسئولان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان در جریان توزیع کمک‌ها، از همکاری‌های مؤسسهٔ AYSO قدردانی نموده و این گونه مساعدت‌ها را در راستای خودکفایی جوانان و ایجاد فرصت‌های کاری، مهم و اثرگذار دانستند.

## د پکتیا ولایت په احمد خېلو ولسوالۍ کې یوه له خطر ډکه ډبره له منځه یوړل شوه

د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یو تخنیکي ټیم په مشرۍ د دې ولایت په احمد خیلو ولسوالۍ کې یوه ډبره چې یو شمېر کورنیو نه یې له سخت خبر سره مخ کړې وو، وروسته له سروې د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۳ نېټه له منځه یوړه.
د یادې ډبرې په له منځه تلو سره د یادې سیمې له احتمالي زیانونو څخه وژغورل شول.



# توزیع کمک‌های نقدی برای ۸۰ تن از دانش‌آموزان آموزش‌های حرفوی در ولایت ننگرهار



بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه (AYSO)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت این مؤسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۴ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک های نقدی را برای ۸۰ تن از دانش آموزان آموزش‌های حرفوی در ولسوالی سرخ‌رود آن ولایت توزیع کرد.

در این روند، به منظور خودکفایی دانش آموزان، در حضور مسئولان، به هر یک، مبلغ ۷،۱۴۰ افغانی پرداخت شد که در مجموع، مبلغ پنجصد و هفتاد و یک هزار و دوصد (۵۷۱،۲۰۰) افغانی برای آنان در نظر گرفته شده بود.

در میان دریافت‌کنندگان این کمک‌ها، ۲۰ تن زن در رشته خیاطی سلمه دوزی، ۲۰ تن زن در رشته قالین‌بافی، ۲۰ تن مرد در بخش ترمیم سولر و باتری و ۲۰ تن مرد در بخش ترمیم موبایل شامل بودند.

قابل یادآوری است که باشندگان محل از این اقدام مؤسسه مربوطه استقبال کرده و اظهار داشتند که چنین کمک‌هایی نقش مهمی در بهبود وضعیت اقتصادی و خودکفایی زنان و جوانان ایفا خواهد کرد.

# د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۸۲ سیلاب ځپلو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې پر بنسټ، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت په فراه رود، پشت رود او خاک سفید ولسوالیو کې د وروستیو سیلابونو له امله ۳۸۲ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۳ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته د هغوی د زیانمنتیا کچې ته په کتو په بېلا بېلې کتګورۍ کې ۳۸۲ بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۱۹۱۰ کیلو بوره، ۱۸۱ کیلو چای، ۴۹۸ تختې کمپلې، ۱۰۸ چریکي بسترې او ۸۴ باب خیمې ووېشل شوې.

# د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست یوې زیانمنې شوې کورنۍ ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د خاص کنړ ولسوالۍ په هنګرو کلي کې، د ماشومانو د بې احتیاطۍ له امله د یو سوځول شوي کور غړو ته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۴ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې یادې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي وریجې، ۵ تختې کمپلې، ۲ تختې پلاستیکي ترپالونه، ۱ د ژمنیو توکو کیټ، ۱ د پخلنځي کیټ او ۱ باب خېمه ووېشل شوه.

## د دایکندي ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵۰ اجباري اېستل شویو راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په هدایت، د دایکندي ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵۰ راستنېدونکو کورنیو ته چې له ایران او پاکستان څخه په اجباري ډول اېستل شوې وې او په یاد ولایت کې ځای پر ځای شوې وې، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۴ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته یوه بوری ۵۰ کیلویي اوړه، یو روغتیایي کېټ او ۴ کیلو بوره ووېشل شوه.

د یادونې وړ ده، چې دا بهیر به په راتلونکو ورځو کې هم دوام ومومي ترڅو لا زیات راستنېدونکي ترې برخه من شي.

## په هلمند ولایت کې ناچاوده توکي کشف او خنثی شول




د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې، د ایریا ماین پاکۍ موسسې QRT_11 چټک ځواب ویونکي تخنیکي ټیم د یاد ولایت د ناوې ولسوالۍ په عینک سیمه کې د ماین پاکۍ عملیاتو په ترڅ کې د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۴ نېټه یو عدد OG9 مرمۍ او ۴ عدده 82mmMorter مرمۍ کشف او په خوندي ډول له منځه یوورې.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خلکو وغوښتل، چې د هر ډول ناچاوده او شکمنو توکو د لیدو په صورت کې دې له اړونده مسولینو سره اړیکه ونیسي ترڅو د خنثی کولو لپاره یې اړین اقدامات ترسره شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل برای ۲،۱۸۱ خانواده مستحق کمک‌های غذایی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ماهو، که تمویل‌کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا (WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل در ولسوالی صیاد آن ولایت بتاریخ ۱۴ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲،۱۸۱ خانواده مستحق کمک‌های غذایی توزیع نمود.

در این روند، پس از سروی و در حضور مسئولین، برای هر خانواده ۳ بوری آرد، ۱۵ لیتر روغن، ۱۸،۷۵ کیلوگرام دال و ۱،۵ کیلوگرام نمک توزیع گردید.

## د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۷۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د روغتیا، معلولیت او پرمختګ موسسې (HDD) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۴ نېټه د دې ولایت د منډول ولسوالۍ اړوند ۶۷۰ مستحقو کورنیو ته د دویم پړاو خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې له سروې وروسته هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۰۰ کیلو اوړه، ۸ کیلو دال، ۱ کیلو مالګه او ۸ لیتره غوړي ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای خانواده‌های ۱۸ شهید و مجروح کمک نقدی توزیع نمود




به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل پس از انجام سروی، برای خانواده‌های ۱۸ تن از شهدا و مجروحین ناشی از انفجار تانکر تیل در مربوطات این ولایت، بتاریخ ۱۴ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع نمود.
در این روند، به ورثه هر یک از ۵ شهید مبلغ ۲۰،۰۰۰ افغانی و به خانواده هر یک از ۱۳ مجروح مبلغ ۱۰،۰۰۰ افغانی کمک نقدی پرداخته شد که در مجموع برای این خانواده‌ها مبلغ دوصد و سی هزار (۲۳۰،۰۰۰) افغانی اختصاص داده شده بود.
قابل یادآوری است که خانواده‌های دریافت‌کننده کمک‌ها، از رسیدگی به‌موقع و توزیع کمک‌های نقدی از سوی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل ابراز خرسندی و قدردانی نمودند.

## د جوزجان ولایت په خواجه دوکوه ولسوالۍ کې د سېل د لارې د کیندلو چارې بشپړې شوې




د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ټولګټو وزارت سره په همغږۍ، د دې ولایت د خواجه دوکوه ولسوالۍ په کوترمه کلي کې د سېل د لارې د کیندلو چارې له ۱۰ ورځو کار کولو وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۴ نېټه پای ته ورسولې.
د سیلاب یاده لاره د ۵۲۵ متره اوږدوالي، ۱.۵ متره ژوروالي او ۲ متره سور په درلودلو سره د اړوندو مسؤلینو په شتون کې وکیندل شوه.
د دې چارې په ترسره کېدو سره د یادې سیمې کرنیزې ځمکې، د هستوګنې ودې کورونه او یاد کلی د سیلابونو له احتمالي زیانونو څخه وژغورل شول.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ریاست رئیس په نرخ ولسوالۍ کې د سېل د لارو د پاکولو له چارو څخه لیدنه وکړه




د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رئیس مولوی احمد شاه ذهین د مل تخنیکی پلاوی سره یوځای د دې ولایت د نرخ ولسوالۍ په عمرخیل کلي کې د سیلابي لارو د پاکولو له چارو څخه د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۵ نېټه لیدنه وکړه.

په یاده لیدنه کې، محترم ذهین د کارې سیمې د لیدنې پر مهال، د نرخ ولسوالۍ اړوند عمرخیل سیمې اوسیدونکو ته وویل چې د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلین تل هڅه کوي ترڅو هغه زیانمنونکې سیمې پاکې او ورغوي، چې له امله یې سیمه ییز اوسېدونکي د احتمالي کواښونو سره مخ دي.

د یادونې وړ ده، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له لورې د نرخ ولسوالۍ اړوند عمر خیل سیمې د سیلبرو د پاکولو په موخه درې سوه زره (۳۰۰،۰۰۰) افغانۍ منظور شوې دي.

د دې کتنې په پای کې، د یاد کلي اوسیدونکو د محترم الحاج ملا نورالدین ترابی او د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کړنو څخه خوښي څرګنده کړه، چې تل یې د دوی ستونزو ته پر وخت رسېدنه کړې ده.

## تکمیل کار ساخت دیوار استنادی در ولسوالی وزه‌زدران ولایت پکتیا




کار ساخت یک باب دیوار استنادی در ولسوالی وزه‌زدران ولایت پکتیا که ده‌ها قریه را از خطر سیلاب‌ها و مسدود شدن راه‌ها نجات می‌دهد، بتاریخ ۱۵ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق با موفقیت به پایان رسید.

این پروژه با حمایت مالی مشترک اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مقام ولایت پکتیا، و با هماهنگی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیا، در منطقه «لکه‌تیغه» ولسوالی وزه‌زدران تطبیق گردید.

پیش از این، سیلاب‌های ولسوالی‌های شواک و گرده‌څېرۍ به‌سوی منطقه لکه‌تیغه سرازیر می‌شد که باعث قطع راه مواصلاتی و تهدید جدی جان و مال صدها تن از باشندگان ولسوالی وزه‌زدران می‌گردید و رفت‌وآمد مردم را با مشکلات جدی مواجه می ساخت. با تکمیل این دیوار استنادی، باشندگان منطقه از خطر سیلاب‌ها مصون خواهند شد.

این دیوار استنادی به هزینه (۲،۰۵۰،۰۰۰) دو میلیون و پنجاه هزار افغانی، به طول ۱۶۰ متر و ارتفاع ۴.۵ متر، توسط شرکت ساختمانی سعادات افغان ساخته شده است. همچنان قرار است در آینده نزدیک، پروژه به‌گونه رسمی به بهره‌برداری سپرده شود که از آن ده‌ها قریه مستفید خواهند شد.

## د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۷۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د (HDDO) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د یاد ولایت د واما ولسوالۍ اړوند ۶۷۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۶ نېټه د خوراکي توکو مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۰۰کلیو اوړه، ۸ کیلو دال، ۸ لیتره غوړي او ۱ کیلو مالګه وویشل شوه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۲۶۴ خانواده مستحق کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی سازمان یونیسف (UNICEF)، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۶ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق در مرکز آن ولایت برای ۲۶۴ خانواده مستحق کمک های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولین، به هر خانواده یک بوری آرد ۵۰ کیلویی، ۵ کیلو شکر، نیم کیلو چای سیاه و یک بسته صحی توزیع گردید.




## د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۹ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې وویشلې

د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په بېلابېلو ولسوالیو او مرکز کې ۲۹ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۶ نېټه خوراکي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، ۱۳ کورنیو هرې یوې ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو ۲ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۲ کیلو بوره او ۵ کیلو غوښه وویشل شوه همدارنګه ۱۶ کورنیو هرې کورنۍ ته چې کورونه یې په قسمي توګه ویجاړ شوي وو ۱ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم او ۵ کیلو غوښه وویشل شوه.



## په پنجشیر ولایت کې د دوو زیان‌منونکو سیمو د وقایوي او تحکیمولو له چارو څخه لیدنه او ارزونه وشوه




د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې ولایتي کمېسیون د څارنې ټیم په دوو بېلابېلو سیمو کې د وقایوي چارو د پلي کېدو له بهیر څخه د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۶ نېټه څارنه او ارزونه وکړه:

۱. د رخه ولسوالۍ د د پیاوشت کلي د نښلوونکي سړک تحکیمول

په دې برخه کې، د سړک د تحکیمولو چارې په حضوري ډول وکتل شوې. له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست اړین مواد، په ځانګړې ډول د ګبیون بکسونه، چمتو او ساحې ته انتقال کړي دي. د ګبیونونو د تثبیت او نصب عملي کار د سیمې اوسېدونکو لخوا، د پلان سره سم، په منظم ډول پر مخ دوان دی.

دا وقایوي پروژه ۱۶ متره اوږدوالی، ۲ متره پلنوالی او ۸ متره لوړوالی لري. همدارنګه، اړوندو مسؤلینو ته د تخنیکي معیارونو لکه د ترلو طریقه، هم‌سطح جوړولو او د ګبیونونو د تراکم په اړه لازمې لارښوونې ورکړل شوې.

۲. د دوآب عمرض حصه اول کلي د استنادي دیوال تحکیمول

له پېښو سره د مبارزې ولایتي کمېسیون د تخنیکي ټیم د پخواني راپور پر بنسټ، یو استنادي دیوال چې د سیلاب او د اوبو د لوړېدو د خطرونو د مخنیوي لپاره د سیمې د اوسېدونکو د کورونو د خوندیتوب لپاره جوړ شوی و، د وېجاړېدو له امله د نړېدو په حال کې و، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هڅو په پایله کې، د ۳۰ ګبیوني بکسونو په نصبولو سره احتمالي خطرونه په اغېزمنه توګه له منځه تللي دي. دا استنادي دیوال ۶۰ متره اوږدوالی او ۱ متر پلنوالی لري.

د څارنې په پای کې، اړوندو مسؤلینو ته د تخنیکي معیارونو، د خوندیتوب اصولو او د کارونو د چټک پرمختګ په اړه لازمې لارښوونې ورکړل شوې.

## کارهای پاک‌سازی سیلبر در منطقه قلعه‌جوز ولایت غزنی تکمیل شد




بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غزنی به‌منظور کاهش خطرات ناشی از سیلاب‌ها، کارهای پاک‌کاری و حفر یک سیلبر را در منطقه قلعه‌جوز آن ولایت با هزینه ۱۸،۴۰۰ افغانی به‌گونه کامل بتاریخ ۱۶ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق به پایان رساند.

این سیلبر به طول ۱۵۰ متر و عرض ۲۵ متر پاک‌کاری گردید که با تکمیل آن، حدود ۲۵۰ منزل مسکونی در این منطقه از خطرات احتمالی سیلاب‌ها مصوون شدند.

قابل یادآوری است که باشندگان محل از این اقدام استقبال نموده و از ریاست مربوطه به‌خاطر اجرای این کار قدردانی کردند.

## د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۱ زلزله ځپلو او مستحقو کورنیو ته غیر خوراکي توکي، چرګان او د هغه خوراکه مواد ووېشل




د اکتیډ (ACTED) او د VDT له موسسو سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لاسلیک شویو هوکړه لیکونو له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادو موسسو په ملاتړ، د دې ولایت په دره نور ولسوالۍ کې د وروستۍ زلزلې له امله د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۶ نېټه ۱۵۵ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکي توکي او ۴۶ مستحقو کورنیو ته چرګان او د چرګانو لپاره خوراکه مواد ووېشل.
د مرستو په دې لړۍ کې د ACTED موسسې له لوري ۱۵۵ کورنیو هرې یوې ته ۱ تخته دوه کسیزه کمپله، ۴ تختې یو کسیزه کمپلې، ۸ عدده د ماشومانو زیرپیراهنی، ۲ عدده نارینه پټو، ۲ عدد ښځینه ټِکري، یو جوړ نارینه بوټان، یو جوړ زنانه بوټان، ۶ جوړې د ماشومانو بوټان، ۴ جوړې نارینه جرابې، ۴ جوړې ښځینه جرابې، ۸ جوړې د ماشومانو جرابې، ۲ جوړې نارینه دستکشونه، ۲ جوړې ښځینه دستکشونه، ۲ عدده د هلکانو خولۍ، ۲ عدد جینکو خولۍ ووېشل شوې، او همدارنګه د VDT موسسې له لوري ۴۶ کورنیو هرې یوې ته ۱۰ چرګان، چې پکې ۸ چرګې او ۲ نران چرګان شامل وو، ووېشل شول او یادو کورنیو ته د هر چرګ لپاره ۲ کیلو خوراکه مواد هم ورکړل شول.
د مرستو اخیستونکو کورنیو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او له یادو موسسو څخه د یادو مرستو په پار مننه وکړه او د دې ډول مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه.

## کارهای تغییر مسیر دریا در مهترلام مرکز ولایت لغمان آغاز شد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان، پس از انجام سروی دقیق، بتاریخ ۱۶ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق کارهای تغییر مسیر دریا را در مرکز آن ولایت آغاز نمود؛ دریایی که مسیر قبلی آن، مناطق مختلف را با تهدید جدی آب‌خیزی مواجه ساخته بود.
رئیس محترم آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان گفت که در حال حاضر کارهای تغییر مسیر این دریا با سرعت در جریان است و انتظار می‌رود که این پروژه در حدود چهار روز آینده تکمیل گردد. با تکمیل این کار، منطقه یادشده از تهدید جدی آب‌خیزی مصوون خواهد شد. با تغییر مسیر آب، حدود ۴۰۰ قریه در آن ولایت از خطر آب‌های دریات در امان قرار خواهند گرفت.
قابل یادآوری است که باشندگان مناطق متأثر از تلاش‌های ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان قدردانی نموده و اظهار داشتند که با تطبیق این اقدامات وقایوی، در آینده منطقه از خطرات ناشی از رودخانه مصون خواهد ماند.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۹ زلزله ځپلو کورنیو ته د غیرې خوراکي توکو مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د AICS مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، او د pangea او SDA مؤسسې په تخنیکي همکارۍ، د یاد ولایت د دره نور ولسوالۍ په مجګنډول کلي کې ۱۴۹ زلزله ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۶ نېټه د غیرې خوراکي توکو مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، ۹۶ کورنیو هرې کورنۍ ته ۳ متره پلاستیک ۵۰ متره رسۍ، ۴۰ کورنیو هرې یوې ته ۴ تختې یو نفري کمپلې، یو تخته دوه نفري کمپلې، ۴ د ماشومانو جاکټونو، یو د نارینه جاکټ، یو زنانه جاکټ، ۲ زنانه شالونه، ۲ د نارینه څادر،۱۲جوړې جرابې، ۴ جوړې دستکشې، ۴ د ماشومانو خولۍ، یو عدد ۱۰ کیلویي د ګاز سلنډر،۱۰ کیلو او یوه ګازي بخارۍ، ۱۳ کورنیو هرې کورنۍ ته ۱۰ کیلویی ګازډبه، ۱۰ کیلو ګاز او یوه ګازي بخارۍ ووېشل شوه.
د یادونې وړ ده، چې مرسته اخیستونکو کورنیو له مرستو ترلاسه کولو وروسته خوښي څرګنده کړه او له اړوندو مسؤلینو څخه یې د دوی ستونزو ته د پر وخت رسېدنې له امله مننه وکړه.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست یوې مستحقې کورنۍ د بیړنۍ مرستې ووېشلې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د محترم مقام سره په همغږۍ، د یاد ولایت اړوند یوې کورنۍ ته چې له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ وه له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۶ نېټه خوراکي، غیر خوارکي او نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې یادې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱ باب خېمه، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ کیلو بوره، ۱ کیلو چای، ۲ تختې کمپلې، ۱ د پخلنځي کیټ، ۱ د ژمنۍ البسې کیټ او ۵۰۰۰ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې.

## روند مصئوون سازی کتله سنگ‌های خطرناک در ولسوالی کوزکنر ولایت ننگرهار ادامه دارد



بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه CWSA، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت مؤسسه متذکره، بتاریخ ۱۷ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق روند شکستن و نابودی سنگ‌های خطرناک را در مناطق مختلف ولسوالی کوزکنر آن ولایت ادامه می‌دهد؛ سنگ‌هایی که خانه‌های مسکونی باشندگان محل را با تهدید جدی روبه‌رو ساخته بودند.
کارهای از بین بردن این سنگ‌ها با هماهنگی این ریاست و توسط تیم‌های مسلکی مؤسسه مربوطه، به‌گونه منظم و مصون در حال اجرا است.
باشندگان محل از این اقدام به‌گرمی استقبال کرده و از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه یادشده خواهان تداوم چنین کارهای خیریه شدند.

## د نیمروز ولایت په چخانسور ولسوالۍ کې له ختېځ څخه د اوبو کانال د پاکولو کار پیل شو



د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، له ختیځ او خاورو څخه د چخانسور ولسوالۍ د اوبو اصلي کانال، چې شاوخوا ۲۵ کیلومتره اوږدوالی لري د پاکولو کار یې د یو سل او اته نوي زره (۱۹۸,۰۰۰) افغانیو په لګښت د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۶ نېټه پیل کړ.
د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم الحاج مولوي محمد قاسم محمد وویل، چې دا پروژه د سېلابونو له امله د رامنځته کېدونکو خطرونو د مخنیوي په موخه پلې کېږي. د نوموړي په وینا، د دې پروژې اساسي موخه د اوبو د بهیر تنظیمول، د سېلابونو د خطرونو کمول او د خلکو د ژوند او کرنیزو ځمکو ساتنه ده.
په همدې حال کې، د چخانسور ولسوالۍ ولسوال مولوي نورالدین حمزه یاد کانال د ولسوالۍ د اوسېدونکو لپاره ډېر حیاتي وباله او ویې ویل چې د اوبو دا لاره له ځو کلونو راهیسې نه وه پاکه شوې. د هغه په خبره، د دې پروژې پلي کېدل به د راتلونکو سېلابونو له خطرونو څخه د خلکو د ځان او مال په خوندي کولو کې مهم رول ولري.
د مسوولینو په وینا، د یاد کانال د پاکولو چارې به په معیاري او اساسي ډول ترسره شي، تر څو په راتلونکي کې هم د چخانسور ولسوالۍ د سېلابونو له ګواښ څخه خوندي پاتې شي.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د ۸ ټپیانو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یاد ولایت د خاک سفید او بالابلوک ولسوالیو په خشک آباد او امین آباد کلیو کې د ورستیو سېلابونو له امله د ۸ تنه ټپیانو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۷ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د هرټپي کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره اتیا زره (۸۰،۰۰۰) افغانۍ نغدي پیسې ځانګړې شوې وې.

د مرستو د وېشلو په لړۍ کې، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ رئیس وویل، چې د طبیعي پېښو له امله د زیانمنو شویو کورنیو سره به د هر ډول مرستو ترسره کول دوام ولري.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۳۰۰ مستحقو کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې


له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې او د اکتېډ مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت د دیوه ګل او مزار درو اړوند ۳۰۰ زلزله ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۷ نېټه غیر خوراکي مرستې ووېشلې.



په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه د ژمنیو وسایلو بسته ووېشل شوه.

## د زابل ولایت په سیوري ولسوالۍ کې د اوبو یو چکډېم پرانیستل او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) سره له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د همغږۍ او هڅو په پایله کې، د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یاد سازمان په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۷ نېټه د دې ولایت د سیوري ولسوالۍ په قزک کلي کې د اوبو یو چیکډېم جوړولو کار بشپړ کړ او رسماً یې ګټې اخیستنې ته وسپاره.




دا چیکډېم ۵۱ متره اوږدوالی، په سر کې ۱ متر او په لاندې برخه کې ۴۵۰ سانتي متره پلنوالی او ۴۶۰ سانتي‌متره لوړوالی لري، او د اوبو د زیرمې حجم یې تقریباً ۱۴۴۰۰ متر مکعب دی. دا پروژه ټولټال د یو میلیون او څلور سوه درې پنځوس زره او پنځه سوه (۱،۴۵۳،۵۰۰) افغانیو په لګښت بشپړه شوې ده.

د دې پروژې د پرانیستې په مراسمو کې، د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمر، الحاج مولوي محمد یوسف محمد، د سیوري ولسوال، مولوي عبدالغفار نظیف، د څارنې د کمېټې غړو او ځایي اوسېدونکو ګډون درلود.

د دې پروژې په بشپړېدو سره، د سیمې څلور کاریزونه چې شاوخوا ۲۰۰ کورنۍ تر پوښښ لاندې لري، د اوبو د کمښت او د وچکالۍ له ستونزو څخه خوندي کېږي.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۵ زیانمنو شویو کورنیو ته نغدي، خوراکي او غیر نغدي مرستې ووېشلې




د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت اړوند د سپلابونو، جنګونو او د چاودېدونکو توکو له امله ۳۵ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۷ نېټه نغدي، خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو غنم، ۲۵ کیلو وریجې، ۵۰ کیلو اوړه، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو تورچای او دوه تختې کمپلې ووېشل شوې.

همدارنګه، د ۴ شهیدانو هر یو کورنۍ ته ۲۰،۰۰۰ افغانۍ او د یو ټپي کورنۍ ته ۱۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره نوي زره (۹۰،۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د پر وخت ترلاسه کولو له امله خوښي څرګنده کړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۷۳ خانواده متأثر از حوادث کمک خوراکی و غیر خوراکی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر به‌منظور رسیدگی به وضعیت خانواده‌های متأثر از حوادث طبیعی و غیرطبیعی، پس از انجام سروی دقیق و با حضور مسئولان محلی، بتاریخ ۱۷ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی را برای ۷۳ خانواده آسیب‌دیده مربوط ولسوالی‌های حصه اول، پریان، مرکز، دره، آبشار، شتل و رخه توزیع نمود.

در این روند بر اساس نوع آسیب‌دیدگی، کمک‌ها به‌گونه مختلف برای خانواده‌ها توزیع شد، طوریکه، برای ۳۹ خانواده که خانه‌های شان به گونه قسمی تخریب شده بود، به هر خانواده یک بوری گندم، یک بوری آرد، یک بسته فامیلی، یک بسته صحی، یک بسته زمستانی، ۵ کیلو بوره و نیم کیلو چای؛ برای ۴ خانواده که منازل شان به گونه کلی تخریب شده بود، به هر خانواده یک بوری آرد، یک بوری گندم، ۵ تخته کمپل، یک بسته فامیلی، یک بسته صحی، یک بسته زمستانی، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو چای و یک پایه چپرکت؛ برای ۲۱ خانواده که زمین‌های زراعتی‌شان تخریب شده بود، به هر خانواده یک بوری گندم، یک بوری آرد، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو چای و یک بسته صحی و برای ورثه شهدا و زخمیان، به هر خانواده یک بوری آرد، یک بوری گندم، یک بسته صحی، یک بسته زمستانی، ۵ تخته کمپل، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو چای و ۲ جوره چپلی توزیع گردید.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر با تأکید بر ادامه حمایت از خانواده‌های متأثر از حوادث، اطمینان داد که رسیدگی به نیازهای آسیب‌دیدگان در حد توان ادامه خواهد یافت.

# نظارت کمیته جلوگیری از آتش‌سوزی ولایت بلخ از تأسیسات تولیدی پارک‌های صنعتی امیرعلی شیر نوایی




به اساس حکم مقام محترم ولایت بلخ و هدایت مقام رهبری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، هیئت کمیسته دایمی آتش‌سوزی، متشکل از نمایندگان ادارات شهرداری، اطفائیه، مستوفیت، شهرسازی و مسکن، استخبارات، اتاق‌های تجارت، صنایع و معدن، نفت و گاز، صنعت و تجارت، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و مقام ولایت بلخ، به‌منظور سروی و نظارت از وسایل وقایوی جهت جلوگیری از آتش‌سوزی، مطابق پلان از قبل تعیین‌شده، از شماری تأسیسات تولیدی در پارک‌های صنعتی امیرعلی شیر نوایی شهر مزارشریف بتاریخ ۱۷ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق بازدید و نظارت به‌عمل آوردند.
این نظارت شامل فابریکه تولید آکسیجن فضای بلخ، سیلوی امیر فیصل، فابریکه زعفران فارما و ذخایر بارگیری و تخلیه رحیم گردیزی می‌گردید. بر بنیاد ارزیابی و مشاهدات هیأت نظارتی، فابریکه زعفران فارما از وسایل و تجهیزات اطفائیوی لازم به‌گونه کامل برخوردار بوده است. همچنان در فابریکه آکسیجن فضای بلخ و سیلوی امیر فیصل تعداد محدودی بالون‌های ضد حریق موجود بوده، اما در ذخایر بارگیری و تخلیه رحیم گردیزی هیچ‌گونه وسایل وقایوی مشاهده نگردید.
در پی این ارزیابی، هیأت سروی‌کننده جهت رفع نواقص و مشکلات موجود، توصیه‌های لازم را به مسئولان فابریکه‌ها و سرای متذکره ارائه نمود و با تفاهم دو طرف، زمان مشخصی برای تکمیل و رفع کمبودها تعیین گردید. مسئولان فابریکه‌های یادشده تعهد سپردند که تا زمان نظارت بعدی، نواقص موجود را به‌گونه کامل برطرف خواهند نمود.

# کشف و خنثی‌سازی مهمات منفجر ناشده در شهر گردیز مرکز ولایت پکتیا




بر اساس هماهنگی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیا با تیم تخنیکی QRT-۷ مؤسسه ماین‌پاکی ایریا، شماری از مهمات منفجرناشده در قریه فخری مربوط به منطقه ابراهیم‌خیل مرکز آن ولایت بتاریخ ۱۷ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق کشف و به‌گونه مصئون خنثی گردید.
در جریان این عملیات، ۳ فیر مرمی نارنجک و ۲ فیر مرمی راکت کشف و به‌صورت امن از بین برده شد که با نابودی آن ها، باشندگان محل از خطرات احتمالی مواد انفجاری مصوون گردیدند.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۲۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت له محترم مقام سره په همغږۍ د دې ولایت د بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۲۲۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۷ نېټه د خوراکي توکو مرستې ووېشل شوې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ کیلو بوره او نیم کیلو تور چای ووېشل شو.
د یادونې وړ ده، چې مرسته ترلاسه کوونکو کورنیو د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د مرستو د کولو له امله مننه وکړه او دا ډول مرستې یې د خپلو اقتصادي ستونزو د راکمېدو لپاره ګټورې وبللې.

## د میدان وردګ ولایت په نرخ ولسوالۍ کې ۴۰۰ متره د سېلاب لاره پاکه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د نرخ ولسوالۍ په عمرخېل سیمه کې د سېلاب د یوې لارې د پاکولو چارې د ۴۰۰ مترو په اوږدوالي او ۳ متره ژوروالي په درلودلو سره بشپړې او د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۸ نېټه رسما ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
دا پروژه د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم مولوي احمدشاه ذهین، د اړونده تخنیکي ټیم او د ولسوالۍ د مسؤلینو په شتون کې پرانیستل شوه. د دې پروژې د پلي کېدو په لړۍ کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳۵۰ لیتره ډیزل مصرف شول او د ټولګټو محترم ریاست له ماشینرۍ څخه پکې کار واخیستل شو.
د دې پروژې په بشپړېدو سره، د سېلابي لارو د بندېدو جدي ستونزې له منځه یوړل شوې، او اوس مهال د خلکو تګ راتګ د دوه یم ځل لپاره عادي حالت ته را وګرځېدو، دا وقایوي اقدام د شاوخوا ۵۰۰۰ کورنیو، کرنیزو ځمکو، باغونو او له مرکز سره د دایمیرداد او نرخ ولسوالیو د نښلوونکي عمومي سړک د خوندیتوب سبب شو.
په ورستیو کې، سیمه ییزو اوسېدونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د عمومي رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي او د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاس څخه د دوی د هڅو او پر وخت اقداماتو قدرداني وکړ او د پر وخت رسېدنې له امله یې خوښي څرګنده کړه.

## په هلمندولایت کی ناچاوده توکي کشف او خنثی شول




د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې، د AREA ماین پاکۍ موسسې QRT-11 تخنیکي ټیم د یاد ولایت د مرکز لښکر ګاه ښار د درېیمې حوزې په سیمه کې د زړو توکو په دوکان کې یو عدد Granade F1، درې عدده RPG7، یو عدد Morter او درې عدده SAA مرمۍ وموندلې او په خوندي توګه د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۹ نېټه له منځه یووړې.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو، له خلکو غوښتې چې د هرډول شکمنو ناچاوده توکو دلیدو په صورت کې اړوند مسؤلینو ته خبر ورکړي ترڅو د خنثی کولو لپاره اړین اقدامات ترسره شي.

## کشف و خنثی‌سازی یک بمب هوایی منفجرناشده در ولسوالی دوآب ولایت سمنگان




بر اساس تماس دریافت‌شده از طریق شماره تماس‌های اضطراری (۰۷۰۸۶۰۶۰۶۰)، ریاست انسجام و هماهنگی تطهیر ماین اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، تیم سوم پاسخ‌گویی عاجل مؤسسه اومر را به منظور انجام عملیات به ولسوالی دوآب ولایت سمنگان بتاریخ ۱۸ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق اعزام کرد.

در جریان این عملیات، تیم یادشده یک بمب هوایی منفجرناشده (OFAB به وزن ۱۰۰ کیلوگرام) را که جان باشندگان محل را با خطر جدی مواجه ساخته بود، کشف نموده و پس از انتقال، به‌گونه امن از بین برد.

همچنان به‌منظور جلوگیری از حوادث احتمالی ناشی از ماین‌ها و مهمات منفجرناشده باقی‌مانده از جنگ، برای باشندگان محل برنامه آگاهی‌دهی عامه در مورد خطرات ماین‌ها و مواد انفجاری تطبیق گردید.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له یوې زیانمنې کورنۍ سره بېړنۍ مرسته ترسره کړه




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت له محترم مقام سره په همغږۍ، د دې ولایت د علینګار ولسوالۍ په سنګر سیمه کې د یوې ترافیکي پېښې له امله زیانمنې شوې یوې کورنۍ سره له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۸ نېټه د خوراکي، غیر خوراکي او نغدي پیسو مرسته ترسره کړه.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، یادې زیانمنې شوې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ کیلو بوره، یو کیلو چای، یوه د ژمنۍ البسې بسته، یوه د پخلنځي البسې بسته او ۵۰۰۰ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې.

یادې کورنۍ د ولایت له محترم مقام او د یاد ریاست څخه د زړه له کومي مننه او قدرداني وکړه، او دغه مرسته یې د خپلې سختې غمیزې او روانو ستونزو پر مهال یو مهم او انساني ملاتړ وباله.

د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ډاډ ورکوي چې د امکاناتو تر حده به د طبیعي او غیرطبیعي پېښو له امله زیانمنو شوو کورنیو سره مرستو او همکارۍ ته دوام ورکړي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هلمند برای ورثه ۷ شهید و زخمی مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هلمند، برای ورثه ۷ شهید و زخمی ناشی از بارندگی‌های اخیر در آن ولایت بتاریخ ۱۸ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت نقدی توزیع کرد.

در این روند، برای هر ورثه هر شهید، مبلغ ۲۰۰۰۰ افغانی و برای هر زخمی مبلغ ۱۰۰۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع برای تمام آنان مبلغ نود هزار(۹۰۰۰۰) افغانی اختصاص داده شده بود.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۰۰ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ورلډ ویژن مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت د جوند ولسوالۍ اړوند ۱۵۰۰ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۸ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵،۲۷۲ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره اوه میلیونه او نه سوه او اته زره (۷،۹۰۸،۰۰۰) افغانۍ نغدي پیسې ځانګړې شوې وې.

## تکمیل و بهره‌برداری از یک دیوار گبیونی در ولسوالی رخه ولایت پنجشیر



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر، کارهای تحکیم یک دیوار گبیونی را در قریه پیاوشت ولسوالی رخه آن ولایت، با هزینه مجموعی پنجصد و هشتاد هزار(۵۸۰،۰۰۰) افغانی پس از ۲۰ روز کار تکمیل نموده و در حضور شماری از مسئولان ادارات امارتی بتاریخ ۱۸ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق به بهره‌برداری سپرد.

این دیوار گبیونی با طول ۱۶ متر، عرض ۲ متر و ارتفاع ۸ متر ساخته شده است که در نتیجه آن، مسیر رفت‌وآمد قریه یادشده از خطرات احتمالی سیلاب‌ها محفوظ گردیده و رسماً مورد استفاده قرار گرفت.

مسئولان محلی ضمن قدردانی از همکاری و سهم‌گیری فعال مردم، از این اقدام ستایش نموده و آن را گامی مؤثر در راستای کاهش خطرات احتمالی ناشی از سیلاب عنوان کردند.

## عامه پیغامونه :

**38. د یخنۍ او ګرمي څخه د ساتنې په موخه د خپلو څارویو لپاره لازم تدابیر ونیسئ ,څکه چې له دې امله زرګونه څاروي تلف شوي دي**

**39. د پېښو له رامنځته کېدو مخکې، د خطرونو مخنیوی او کمول خورا آسانه او په کم لګښت ترسره کېږي**

**40. پېښځپلو ته په بیړه ځانونه ورسوئ، ترڅو د نورو احتمالي خطرونو مخنیوی وشي**

**41. د هوا پېژندنې ادارې وړاندوینې په پام کې ونیسئ ترڅو د پېښو له خطرونو څخه خوندي پاتې شئ**